UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتي اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**يوناما افغانانو ته د ټول ټاکنو مبارکي وايي**

**کابل، ۱۳۹۳ کال د وري شپاړلسمه نېټه** – د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) د نارينه او ښځو په ګډون ټولو هغو افغانانو ته چې د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو په ټول ټاکنو کې يې نن ګډون کړی دی، مبارکي وايي.

دوي په خپل دغه کار سره د افغانستان لومړي دموکراتيک ليږد ته چې له يو منتخب ولسمشر څخه بل منتخب ولسمشر ته ليږدول کيږي توان ورکړ.

دا د يو با ثباته او واحد افغانستان د راتلونکي لپاره ښه ورځ وه. د پام وړ شمير عام افغانان راووتل او رايه يې ورکړه، او د طالبانو ګواښونو او بريدونو ته يې اهميت ور نکړ.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي او د يوناما مشر يان کوبيش وويل: په اوږدو کتارونو کې او د خرابې هوا سربېره، په صبر هغوي انتظار وکړ او د خپل بشري بنسټيز حق څخه په استفادې سره يې خپله رايه ورکړه. هغوي وښتيله چې خپله راتلونکي د سياسي وسيلو څخه په ګټه اخيستلو سره جوړوي او په قاطعيت يې د سولې او دموکراسی دښمنان رد کړ.

هغه زياته کړه: د افغانستان امنيتي او ټاکنيزې ادارې د هغوي د هغه مشرتوب لپاره چې ټول ټاکنې يې تنظيم او خوندي کړي، او د اساسی قانون د مفاهيمو سره يې په سمون کې تر سره کړي بايد وستايل شي.

دا افغانستان د ټاکنو د مديريت ادارې اوس يو اساسی مسووليت لري چې د دغه رايې وشميري او شکايتونه په منصفانه او اغيزمن ډول حل کړي او پايلې په شفافه توګه او په وخت اعلان کړي. ښاغلی کوبيش وويل: زه په هغوي غږ کووم څو، د دې څخه ډاډ تر لاسه کړي چې د هغوي عملونه او پريکړې په پوره بشپړتيا، بې پرې توب او شفافه توګه باندی تر سره شي.

د ملګرو ملتونو دغه چاړواکی په دی هم ټينګار وکړ چې نوماندان او د هغوی پلويان د ستونزو د را پيدا کيدو په صورت کی د زغم څخه کار واخلي او خپل شکايتونه اړونده ادارو ته د افغانستان د قوانينو په رڼا کې واستوي او دا چې د دې ادارو وروستی پريکړې ته درناوی وشي.

هغه خبرداری ورکړ چې هر ډول له وخته مخکې اعلانونو به يواځې دا سياسی ليږد او د هغه دموکراتيکه او سوله ايزه بڼه تر پوښتنې لاندې راولي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**

**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**